AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاين

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دوکتور محمد عثمان تره کی ۲۰۲۶ / ۰۳ / ۱۷

# افغانستان د پاکستان د فاسد پوځ د دولتي تروريزم سره مخ دي

د ژنيو د ۱۹۴۹ م کال کانوانسيون د لمړۍ فقرې ۵۳ مه ماده په ډاګه کوي چې : « د جګړې غاړې بايد د جګړې موخې په توګه د پوځي او ملکي تاسيساتو او پوځي او ملکي وګړو تر منځ توپير وکړي ». په ملکي خلکو باندې بريد جنګي جنايت دي.
د افغانستان او پاکستان په اوسني جګړه کې پاکستان پوځ په مکرره توګه د جګړې د حقوقي او اخلاقي اصولو څخه سرغړونه کړې ده.
پوځ په پاکستان کې دير ځواکمن بنسټ دي چې کورنى او بهرني سياست کنټرولوي :
- پاکستان پوځ په کور د ننه د يو اقتصادي او سياسي شبکې په سروالي کې قرار لري چې د فساد او اختلاس د دوسيې په اړه هيڅاته د ځواب ويلو مسئوليت نلري.
- پاکستان پوځ اسلامي افراطيت او تروريزم د پاکستان د بهرنى سياست د يو لاسوند په توګه کاروي.
راځي چې د پاکستان د پوځ د فساد او اختلاس دوسيې ته پام واړو. د هغه په رڼا کې دا روښانه کيږي چې ولي پاکستان پوځ د جګړې د اخلاقي اصولونه په سرغړونه د معتادينو د ساتني په مرکز بريدونه وکړ.
د پاکستان د پوځ د جنرالانو د فساد او رشوت حساس موضوع، هم د پاکستان دننه او هم په نړيواله کچه د څېړونکو، ژورناليستانو او سياستوالو له خوا راپور شوې ده. پوځ د ا اقتصادي ځواک په توګه د شفافيت نشتوالى له کبله په فساد ککړ دي.
پاکستاني جنرالان د يو اقتصادي امپراتورې په سروالي کې قرار لري چې په کې لاندې ګڼ اقتصادي بنسټونه شامل کيږي :

- Pakistan Army
- **Fauji Foundation**
- **Army Welfare Trust**
- **Defence Housing Authority**

يادې ادارې په بانکدارۍ، ساختماني چارو، صنعت، او کرهنه کې پراخ فعاليت لري.

- **Land Allotment Scandals**

**دا د ځمکو ويش اداره ده.** په پاکستان کې پوځيان ډېر ځله ارزانه يا وړيا ځمکي ترلاسه کړي او وروسته يې په لوړه بيه پلورلي.
د پرويز مشرف د واکمنى پر مهال فساد په لوړه کچه رامنځته شوې و. د نمونې په توګه دلته د پوځ پخواني ويائد او د لمړي وزير مشاور جنرال عاصم سليم باجوه چې د چين او پاکستان د اقتصادي دهليز د اداري مشر وو د فساد دوسيې خلاصوو :
پاکستاني خبريال احمد نوراني د جنرال عاصم سليم باجوه او د هغه د کورنى مخ پر ودې کار او بار په هکله د « فيکت فوکس » په انټرنټ پاڼه کې يو څېرنيز رپوټ خپور کړې دي. په دغه راپور کې ويل شوي چې د ۲۰۰۲ م کال د مخه د عاصم سليم باجوه، د هغه د ميرمني، زامنو او ورونو په نوم کوم کار او بار نه وو. په وضعيت کې هغه مهال بدلون راغى چې نوموړى د پاکستان د پخواني ولسمشر او لوى درستيز پرويز مشرف د دفتر چارو آمر وټاکل شو. احمد نوراني په خپل راپور کې ليکلى دى چې د باجوه ميرمن په امريکا، عربي اماراتو او کاناډا کې اټکل ۲ سوه مليون دالر پانګونه کړى، خو عاصم باجوه د خپلو شته منيو په ليست کې ليکلي دي چې ده او ميرمن يې له پاکستانه د باندې کومه پانګونه نده کړې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په څير و لولئ

د احمد نوراني په خبره د عاصم باجوه زوی هغه مهال د کان کيندني يو شرکت پرانيست چې پلار يې په بلوچستان کې د لويديځې قوماندې، قوماندان وو. د عاصم باجوه ورورهم يو شرکت پرانيست.
په راپور کې راغلي چي د باجوه د ميرمني په شمول د هغه د کورنۍغړي د « باجکو تيلي کام » او « فاسټ تيلي کام » د شرکتونو مالکان دي. د راپور له مخې دغه شرکتونه د پاکستان د مالياتي چارو د تنظيموونکي اداري سره راجستر ندي خو دير عوايد لري.
احمد نوراني دا هم ويلي دي چي کله باجوه په بلوچستان کي دنده درلوده ، نو هغه مهال يي کورنۍ په امريکا کي د لس مليونه دالرو پانګونه وکړه.
نوراني د خپل راپور په پاي کي دا پوښتنه راوړاره کړي چي د شرکتونو د پرانيستلو او پانګوني له پاره دومره پيسي له کومه شوي ؟
عاصم منير باجوه يوازينی جنرال نه دی چي په فساد تورن دی. د پوځ ګنشمير لوړ پوړي افسران په فساد، رشوت او اختلاس تورن دي. ملکي اداري نشي کولی پوځ په اسانه وڅاري. هيڅ فاسد جنرال محاکمه ندی شوي.
د پاکستانی پوځ لپاره د بهرنيو شتمنيو (مالياتو، بانکونو، شرکتونو، جايدادونو) کره او رسمي شمېر نشته، ځکه دا معلومات اکثره پټ ساتل کيږي او بشپړ شفافيت نه لري. خو د بېلابېلو څېړنو، راپورونو او اټکلونو له مخې يو عمومي انځور داسي ښئي :
ځيني نړيوال او سيمه ايز شنونکي اټکل کوي چي د پوځ اړوند سوداګريز امپراتورۍ ارزښت د ۲۰۰ مليارد دالرو تر ۵۰۰ مليارد دالرو پوري رسيږي . خو د دغه شتمني سر سره پاکستاني جنرالان د ګدايی کچکول په غاړه بهرنيو هيوادونو او نړيوالو اقتصادی بنسټونو پسي سرګردان ګرځي.
افغانستان په خپل ګاونډ کي د يوې دولتي ترهګري ډلي سره مخ دی چي د خپلي اقتصادي امپراتورۍ د ساتلو لپاره نه د ښه ګاونډيتوب اصولو ته ژمن دی او نه هم ځان د جنګي اخلاقو او نړيوالو قوانينو د معيارونو په رعايت مکلف ګڼي.
د معتادينو په روغتون کي بمباری بايد په همدغه واقعيت په بنسټ وکتل شي.
« پاي »



آرشيف: مطالب نشر شدۀ دوکتور محمد عثمان تره کی


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ